مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۷

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو دریمه برخه)

## عبدالله سپـین غر

د غوايي له پاخون وروسته د لوړو او مسلکي تحصیلاتو د وزارت مرستیال وزیر. د مرکزي کمېټې د تبلیغ او ترویج او روزنې د څانګې سرپرست مشر.

## جهانتاب عالَـم ستاینزی [1]

د نور علم لور په ۱۹۵۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. په ۱۹۷۰ز کال کې د رابعهٔ بلخي له لیسې څخه فارغه سوې ده. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي ته تللې ده. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې خپل لیسانس په انګلیسي ادبیاتو او ښوونې او روزنې کې په سیاتل کې د واشنګټن له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. د ملګرو ملتونو د پرمختیا په پروګرام کې د اداري چارو د اسیستانتې په توګه استخدام سوه. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د مخدراتو د ناوړه استعمال د کنترول د پروګرام کارکوونکې. په ۱۹۸۰ز کال کې ئې له خپل خاوند زمان ستانیزي سره یو ځای افغانستان پرېښود. په ۱۹۸۵ز کال کې ئې د حقوقي وکیل د مرستیالی روزنه ئې د سویلي کالیفورنیا د پوهنتون په (لا سنتر) [2] کې بشپړه کړه. د لاس انجلس په نړۍ وال انسټیټیوټ کې د ټولنیزو خدماتو مشاوره. اوس د کالیفورنیا د "په ورلي هیلز" [3] له حقوقي بنسټ سره کار کوي. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## ډاکټر خوشحال علم ستانیزی

د محمد علم ستاینزي زوی په ۱۹۴۱ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسې او د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د پوهنتون د روغتیایي خدماتو د مدیریت مدیر.

---

1 - STANIZAI, JAHANTAB ALAM : ددې نوم مخې ته ئې په عربي الفباء جهانتاب الم ستانیزی لیکلي دي. دغه الم زه په دې دلیل علم لولم چې ددې د پلار نوم نورعلم دئ او ښايي د علم نوم ئې د پلار له نامـهٔ څخه اخیستی وي. – ژ

2 -Paralegal Studies, Law Center, University of Southern California

3 -Beverly Hills



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او خپل طبي تحصیلات ئـې په داخله طب او د هاضمې په سیستم [4] کې بشپړ کړل. د «لوما لیندا د پوهنتون میدیکل سنټر» [5] پوهنیار. د طب د ریاست رئیس. د «لوما لیندا کمیونیټي هاسپټل» [6] منتخب رئیس.

## تورن جنرال محـمـد علم ستانیزی

د فتح محـمـد زوی په ۱۹۰۰ز کال کې د لوګر په کتب خیلو کې زېږېدلی دئ. د ۱۹۲۰ز لسیزې په اوږدو کې له حربي اکاډیمۍ څخه فارغ سوی دئ او هماغلته ئـې له فراغت وروسته تدریس ته دوام ورکړی دئ. د ۱۹۲۰ز لسیزې په منځنیو کلونو کې د حربي اکاډیمۍ د اداري چارو مسؤول. د ۱۹۲۹ز کال د کورنیو جګړو په لړ کې ئـې د حبیب الله کلکاني پر ضد جګړه وکړه. د ۱۹۳۰زکال په لومړیو کې د بدخشان او قطغن د وسله والو ځواکونو بولندوی. د ۱۹۳۰ز لسیزې په وروستیو کې په مشرقي کې د وسله والو ځواکونو بولندوی او د صافیانو د پاڅون په سوله ییز حل کې ئـې همکاري وکړه. په ۱۹۴۲ز کال کې په کندهار کې د وسله والو ځواکونو بولندوی. په ۱۹۵۲ز کال کې د کورنیو چارو د وزارت د امنیت او ملي ژاندارمري بولندوی. په ۱۹۵۴ز کال کې ئـې له دولتي خدماتو څخه استعفی وکړه. د ولسي جرګې په دولسمي او دیارلسمي دورې کې د لوګر د وګړو د استازي په توګه وټاکل سو. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## نور احمد ستانیزی

د لوګر په کتب خیلو کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې په کابل او لوګر کې کړې دي او په ملکي چارو کې ئـې کار پیل کړی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې د کابل مستوفي؛ په ۱۹۵۶ز کال کې د میمنې مستوفي؛ او په ۱۹۶۷ز کال کې د کندهار مستوفي. له تقاعد وروسته ئـې د لوګر ولایت د وګړو په استازیتوب د سناتورۍ دنده پر مخ یوړه. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## زمان سباوون ستانیزی

د سید علم زوی په ۱۹۴۸ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې په لوګر او د کابل د نجات په لیسې کې کړې دي. په ۱۹۷۲ز کال کې ئـې خپل لیسانس په ښوونې او روزنې او انګلیسي کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او په ۱۹۷۷ز کال کې ئـې خپله ماستري په ژب پوهنې کې د واشنګټن له پوهنتون څخه ترلاسه کړه او بله ماستري ئـې په ۱۹۸۲ز کال کې په سیاسي علومو کې د سویلي کالیفورنیا له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۸۳ز کال راهیسي د دکتوار پروګرام ته کاندید دئ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې په کابل کې د «امریکا د ساحوي خدماتو» [7] د تبلیغاتو مدیر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په کابل کې د «کاروان د ژباړې د خدماتو» [8] محرر/ مصحح. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۴ز کال پورې په کابل کې د ایشیا فوندیشن پروګرام آفیسر. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې په کابل کې د «یو. اس. آی. اس.» [9] د ژبې استاد. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د کابل پوهنتون د ښوونې

[4] -gastroenterology
[5] -Loma Linda University, Medical Center
[6] -Loma Linda Community Hospital
[7] -American Field Services
[8] -Caravan Translation Services
[9] -U.S.I.S.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

او روزني د پوهنځي د ژبو استاد. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۹ز کال پورې په کابل کې د «نړۍ وال ارتباط د ایجنسی، د انگلیسي ژبې د مرکز»[10] اداري مسؤول. په ۱۹۷۹ز کال کې په کابل کې د امریکا د سفارت ژباړونکی/ شفاهي ژباړونکی. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنیار. له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د سویلي کالیفورنیا د پوهنتون د امریکا د ژبو په انستیتیوت[11] کې د ژبې مدرس. په ۱۹۸۲ز کال کې په «کوست لاین کمیونیتي کالج»[12] کې. او له ۱۹۸۳ز کال راهیسې د «لاس انجلس په یونیفاید سکول دیستریکت»[13] کې. د فریدم یا آزادۍ د خپروني ناشر او محرر. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

**سُهاک** : وگورئ : سَهاک

## جنرال عبدالله روکی سلیمان

د سردار سلیمان خان زوی، په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د استقلال په لیسې کې کړې دي. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۵۵ز کال پورې حربي پوهنتون ته تللی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې د امریکا په متحده ایالاتو کې روزنه تر لاسه کړه. په ۱۹۵۰ز کال کې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه یاور. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د ارگ د گارډ، د کنډک بولندوی. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د ملي دفاع په وزارت کې د باندنیو اړیکو د ریاست کارمند. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۱ز کال پورې په شوروي اتحاد کې پوځي اتشه. په ۱۹۶۹ز کال کې برید جنرال. په ۱۹۷۳ز کال کې د ملي دفاع د وزارت د باندنیو اړیکو د ریاست مشر. د ملکې حمیرا له خور سره ئې واده کړی او پینځه بچیان لري. «د باندنیو چارو په وزارت کې کارمند» محمد علي سلیمان ددهٔ ورارهٔ دئ. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د غوایي د پاڅون له کبله ووژل سو.

## عبدالقادر سلیمان

د سلیمان خان زوی او د احمد علي ورور د ۱۹۲۴ز کال په شاوخواوو کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسې او حربي اکاډیمې کې ئې تحصیلات کړي دي. د ۱۹۵۲ز کال په شاو خواوو کې د باندنیو چارو د وزارت کارمند. وروستنی دیپلوماتیک مأموریت ئې له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په جاکارتا کې شارژدافیر وو. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. د شاه محمود غازي له لور سره ئې واده کړی دئ. په ۱۹۸۳ز کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې وفات سو.

## احمد علي سلیمان

د سلیمان خان زوی او د محمد نادر شاه د اکا زوی په ۱۸۹۷ز کال کې د هندوستان په دهرا دون کې زېږېدلی دئ. دی د علیشاه خان ورور دئ. د «خان اسپور»[14] بولنه / قومانده ئې کړې ده. په ۱۹۲۳ز کال کې د اعلیحضرت امان الله خان د یاور په توگه مقرر سو. له ۱۹۲۳ تر ۱۹۲۴ز کال پورې د جلال آباد والي. په ۱۹۲۹ز کال کې په فرانسي کې وزیر

10 -English Language Center, International Communication Agency
11 -American Language Institute, University of Southern California
12 -Coastline Community College
13 -Los Ageles Unified School District
14 -Khan Aspor


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مختار. د ۱۹۳۱ز کال د جون په میاشت کې د لندن سفیر. د ۱۹۳۳ز کال د اکتوبر په میاشت کې کابل ته راستون سو. په ۱۹۳۳ز کال کې د معارف وزیر. په ۱۹۳۷ز کال کې د تهران سفیر او په ۱۹۳۹ز کال کې د لندن سفیر. په ۱۹۵۳ز کال کې د دربار وزیر. په ۱۹۶۳ز کال کې متقاعد سو. په ۱۹۷۹ز کال کې د کابل د پلچرخي په زندان کې مړ سو.

## غلام محمد سلیمان

په ۱۹۱۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال د لیسي فارغ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئـې د باندنیو چارو په وزارت کې کار کړی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د پروتوکول رئیس. په ۱۹۵۷ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د اداري چارو مرستیال وزیر. د ۱۹۶۳ز کال د اپریل د میاشتې په ۳ نېټې د مصر سفیر. د ۱۹۶۶ د فبرورۍ په ۹ نېټې د پاکستان سفیر. د ۱۹۷۸ز کال د مي له میاشتې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې د پل چرخي په زندان کې زنداني. وادهٔ ئـې کړی او درې بچیان لري.

## مـحـمـد سلیمان خان

سردار او مـحـمـدزی دئ. د سردار مـحـمـد آصف خان زوی او د سپه سالار محـمـد نادر خان د ترهٔ زوی دئ. په ۱۹۰۵ز کال کې د امیر حبیب الله خان نظامي ایشک اقاسي وو. په ۱۹۰۷ز کال کې هندوستان ته د امیر حبیب الله خان د سفر ملګری وو. په ۱۹۱۶ز کال کې د هرات نائب الحکومه وو او د ترهٔ زوی ئې محـمـد هاشم خان همدلته نائب سالار سو. د شورى د مجلس غړی. د جلال آباد والي او د ۱۹۲۰ز کال د جنورۍ په میاشت کې په جلال آباد کې وو. د احمد علي سلیمان پلار چې په ۱۹۶۳ز کال کې ددربار وزیر وو او د قاهرې او د اسلام آباد د سفیر غلام مـحـمـد سلیمان پلار.

نور بیا

## عبدالعزیز توخي سلطان

د «دودیز طبیب» شاه دولا زوی. د امان الله خان پر مهال ئـې خپل کاري ژوند د ملکي مأمور په توګه پیل کړ...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ